د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

# د مزدورانو درې حقونه

18 ستمبر 2025



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

**(1):** پۀ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: **5** منټه **(2):** دُعا یادول: **5** منټه

**(3):** [د خپلو اعمالو] جائزه: **5** منټه، **ټول وخت**: **15 منټه-**

نن به د زده کولو او ښودلو پۀ **حلقو** کښې **د مزدورانو درې حقونه** پۀ باره کښې ګټه ور معلومات درکولے شي او د سختې خطرې پۀ وخت لوستلے کیدونکې دُعا به یادولے شي- پۀ اخره کښې به د نیک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کیږي- اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم!

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** چا چې پۀ ما باندې 100 کرته دُرُودِ پاک ولوستو **الله** پاک د هغه د دواړو سترګو ترمینځه ولیکي، دا د نِفاق او د دوزخ د وور نه ازاد دے او هغه به د قیامت پۀ ورځ د شهیدانو سره ساتي- (1)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## د مزدورانو درې حقونه

## آیت مبارک

**الله** پاک فرمائیلي دي:

| | |
|---|---|
| یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوْۤا اَمْوَالَكُمْ بَیْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ (پارہ:5، سورۃ النساء:29) | ترجمۂ کنزُالعِرفان: اے ایمان والؤ! پۀ باطله طریقه خپل مینځ کښې د یو بل مال مۀ خورئ- |

پۀ دې آیت مبارک کښې د چا مال پۀ ناحقه د خوړلو (مثلاً د مزدور مزدورې پۀ ناحقه ایسارول، پۀ دباؤ اچولو (پۀ ویرولو) کار زیات او اُجرت کمول وغیره) نه منع فرمائیلې شوې ده- (2)

---

1… معجم اوسط، جلد:5، صفحه؛252، حدیث؛7235۔

2… تفسیر روح المعانی، پارہ:5، سورۃ النساء، تحت آیت:29، جلد:3، صفحه:22۔

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

بے شکه ستاسو ځيني (مسلمانان) وروڼه ستاسو خادمان دي، **اللّٰه** پاک هغوئي ستاسو ماتحت کړي دي، پس چې د چا مسلمان وروَر د هغه ماتحت وي، هغه له پکار دي چې ✿ څۀ ځپله خوري، هغه پۀ هغه هم خوري ✿ څۀ چې ځپله اغوندي، هغه پۀ هغه هم اغوندي ✿ پۀ هغوئي باندې د طاقت نه زيات بوج مۀ اچوئ--!! ✿ که داسې کار پرې هُم کوئ نو د هغوئي ملاتړ کوئ--!! (1)

## د مزدورانو درې حقونه

محنت کوونکي (يعني پۀ اُجرت اخستو کار کوونکي) ته **مَزدُور** وئيلے شي ✿ مِستري ✿ اليکټريشن ✿ پلمبر ✿ پۀ کارخانو کښې کار کوونکي ✿ بوج اوچتونکي وغيره ټول پۀ مزدورانو کښې راځي- اَلْحَمْدُلِلّٰه! دِينِ اِسلام د مزدورانو د پاره هم د رحمت دِين دے، پۀ اِسلام کښې د دوئي هم باقاعده حقونه مقرر دي، راځئ چې د مزدورانو درې حقونه زده کړو:

**وړومبے حق:** اُجرت د مخکښې نه ټاکل

**وضاحت:** مثلاً پۀ اليکټريشن باندې څۀ کار کول وي، د هغۀ سره اُجرت د مخکښې نه وټاکئ! دغه شان پۀ رکشه، ګاډي وغيره کښې که سفر کوئ نو د هغوئي سره هم اُجرت د مخکښې نه وټاکئ! دا وئيل **چې څۀ مناسب وي هغه واخله** يا هيڅ هم نۀ ټاکل دا صحيح نۀ دي، عام طور د جګړې سبب هم جوړيږي- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: کله چې اَجِير پۀ اُجرت باندې ساتې نو هغۀ ته اُجرت هم د مخکښې نه ووايئ- (2)

---

1...بخاری، کتاب العتق، باب قول النبی العبید اخوانکم، صفحه:655، حديث:2545۔

2...مسند امام اعظم بروايت ابو نعيم، مراسيل ابراہيم، صفحه:89۔

**دويم حق**: پهٔ وخت مزدوري ادا کول

**وضاحت**: پهٔ دې کښې دوه حقونه دي: (1): د مَزدور اُجرت پوره پوره ادا کول (2): پهٔ وخت ادا کول- بعضې نادانه ❁ پهٔ دباو اچولو (ويرولو) ❁ پهٔ سختئ کولو ❁ پهٔ پريشانه کولو د هغهٔ اُجرت خوري، دا سخته ګناه، حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے-[1] فرض کړئ چې ستاسو سره رقم نشته يا کم دے او کار کول هم ضروري دي نو مخکښې ورسره [دا هُم] وټاکئ! چې اوس راسره رقم نشته، پهٔ فلانکي وخت به يې درکووم- مخکښې پرې کار کول او بيا ټول يا نيم رقم پهٔ قرض کښې اچول هم صحيح نهٔ دي- پهٔ حديث شريف کښې دي: د مزدور مزدوري د هغهٔ د خولې وچيدو نه مخکښې ادا کړئ--![2] (يعني پهٔ مزدورئ ورکولو کښې د لم ليټ نه کار مهٔ اخلئ--! پهٔ کوم وخت چې مو ورکول ټاکلي وي بغير د څهٔ لم ليټ نه يې هُغه وخت ادا کړئ--!)[3]

**دريم حق**: د مزدور سره ښهٔ سلوک کول

**وضاحت**: ❁ د هغوئي سره پهٔ مُسکا باندې خبرې کول ❁ د عزت سلوک کول ❁ اے، تهٔ وغيره د غير مهذبه لفظونو نه ځان ساتل ❁ د موقعې پهٔ مناسبت سره چائے، ډوډئ، اوبه وغيره ورکول ❁ که کار ښهٔ وکړي يا خوار غريب وي نو د ټاکلے شوي اُجرت نه لږ زيات ورکول ❁ که څهٔ خطا ترينه وشي، کار ترينه خراب شي نو معاف کول وغيره د مزدورانو سره د ښهٔ سلوک مثالونه دي- مونږ له پکار دي چې کله هم پهٔ چا باندې پهٔ اُجرت کار کوو نو د دې خبرو خيال ساتو، خاص طور د مزدورانو د عزتِ نفس خيال ساتل ډير ضروري دي- څهٔ داسې لفظ يا رويه مهٔ اختياروئ چې مزدور شرم محسوس کړي، مهٔ هغه کم تر

---

1...فتاوی رضویہ، جلد:19، صفحہ:455 ماخوذاً۔

2...سنن ابن ماجہ، کتاب الرھون، باب اجر الاجراء، صفحہ:392، حدیث:2443۔

3...مرآۃ المناجیح، جلد:4، صفحہ:338۔

ګڼيځ ځکه چې ځان ښهٔ او نور کم تر ګڼل تکبر دے او تکبر حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے۔ [1]

## دوهرائي

نن مونږه د مزدورانو درې حقونه زده کړي دي، په ذِهن کښې يې کښينوئ: (1): اُجرت د مخکښې نه ټاکل (2): پهٔ وخت مزدوري ادا کول او (3): د مزدور سره ښه سلوک کول۔

## د ښودلو او زده کولو پهٔ حلقو کښې يادولو والا دُعا

## د سختې خطرې پهٔ وخت لوستلے کيدونکې دُعا

اَللّٰهُمَّ اسْتُرْعَوْرَاتِنَا وَاٰمِنْ رَوْعَاتِنَا

**ترجمه:** اِلٰهی! زمونږ پرده داري وکړې او زمونږه ويره پهٔ بے ويرې کيدو او اطمينان کښې بدله کړې۔ [2]

## د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

### د روزانه 56 نيک اعمال:

(1): آيا ښهٔ ښهٔ نيتونه مو کړي؟ (2): آيا پينځهٔ واړه نمونځونه مو د جمعې سره ادا کړي؟ (3): آيا د هر نمونځ نه مخکښې مو د نمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آيا د شپې مو سُوْرَةُ الْمُلْك لوستلے يا اوريدلے؟ (5): آيا د هر نمونځ نه پس مو آية الکرسی، تسبيحِ فاطمه، سُورَةُ الِاخلاص لوستلے؟ (6): آيا د کنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلي يا اوريدلي؟ (7): آيا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آيا 313 کرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ (9): آيا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (10): آيا غوږونه مو د

---

[1] ... فتاوی رضويه، جلد:23، صفحه:614۔

[2] ... مسند احمد، مسند ابي سعيد الخدری، جلد:5، صفحه:6، حديث:11288، مدنی پنج سورهٔ، صفحه:221۔

ګناهونو نه بچ ساتلې؟ (11): آيا د فضول نظر نه پۀ بچ کيدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12):آيا 12 منټه مو د مکـتبة الـمدينه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آيا د اذان او اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آيا د غصې علاج مو کړے؟ (15):آيا خپله [يعنې د خپلو اعمالو] جائزه مو اخستې؟ (16): آيا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آيا پۀ تاسو او جي وئيلو سره مو خبرې کړي؟ (18): آيا پۀ مکـتبة الـمدينه بالغان کښې مو لوستلې، يا مو ښودلې؟ (19): آيا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پۀ دوو ګينټو کښې کور ته رسيدلې يئ؟ (20) : آيا دوه ګينټې مو پۀ ديني کارونو باندې لګولې؟ (21): آيا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاڅول کړي؟ (22): آيا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آيا پۀ کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) :آيا د جومات درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (25): آيا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آيا د زلفو پريښودو پۀ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آيا يو موټے ږيره مو پريښودې؟ (28) : آيا د ګناه کولو پۀ شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آيا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آيا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آيا څۀ نا څۀ مو پۀ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آيا د ماسپښين سنتِ قبليه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آيا تهجد يا صلوٰةُ الليل مو ادا کړي؟ (34): آيا د اَوَّابِيْن يا اِشْرَاق او څاښت نـمونځ مو کړے؟ (35):آيا د مازيګر يا د ماسخوتن سُنتِ قبليه مو ادا کړي؟ (36): آيا پۀ 12 ديني کارونو کښې مو د يو ديني کار ترغيب ورکړے؟ (37) : آيا د نورو نه غوښتلے شوې څيزونه خو مو اِستعمال کړي نۀ دي؟ (38):آيا د دروغو، غيبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آيا د څۀ وخت د پاره مو مَدَني چينل کتلے؟ (40): آيا ذاتي دوستي خو مو نۀ ده کړې؟ (41): آيا پۀ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آيا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نۀ دي وئيلي کوم چې زړۀ نۀ دي منلي؟ (43): آيا د صفايۍ او سليقې خيال مو ساتلے؟ (44): آيا د مسلمانانو د عيبونو پرده مو

ساتلې؟ (45):آيا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسير اوريدو /بيانونو په حلقه کښې شرکت کړے؟ (46):آيا د څۀ نا څۀ جائز کار نه مو مخکښې بِسۡمِ‌الله وئيلې؟ (47): آيا چوک درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (48): آيا مور پلار او پير او مرشد ته مو ايصالِ ثواب کړے؟ (49): آيا د اِسۡرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آيا د ټريفک د قوانينو پابندي مو کړې؟ (51): آيا د تنظيمي طريقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52): آيا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آيا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آيا د ټوقو ټقالو، خندا، زړۀ ازارولو او په کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آيا عمامه شريف مو په سر کړې؟ (56): آيا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدينه کارکردګي

❀ په ليکلو خبرې کول 12 کرته ❀ په اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ❀ په سترګو کښې د سترګو اچولو نه بغير خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نيک اعمال

(57): آيا د اِسلامي خوئيندو هفته وارې اِجتماع ته مو څوک اِسلامي خور د کور نه ليږلې؟ (58): آيا هفته واره مَدَني مُذاکَره مو کتلې يا اوريدلې؟ (59): آيا په هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آيا يومِ تعطيل اِعتِکَاف مو کړے؟ (61): آيا د مريض يا غم زپلي تپوس يا غم خورې او د چا په وفات کيدو مو تعزيت [لاس نيوه] کړې؟ (62): آيا په هفته کښې مو په يوه ورځ کښې روژه نيولې؟ (63): آيا هفته واره رساله مو لوستلې يا اوريدلې؟ (64): آيا علاقائي دوره مو کړې؟ (65):آيا مخکښې راتلونکو او اوس د نۀ راتلونکو اِسلامي ورونړو مو د ديني ماحول سره تړون پيدا کړو؟